# رسمی جریده

د افغانستان د پادشاهی دولت رسمی خپرونه

فوق العاده گڼه

د امتیاز خاوند : د عدلیې وزارت
مسئول مدیر : محمد یوسف روښنفکر
تلفون ۲۳۳۳۰
پته : رسمي جریده کابل افغانستان

۱۴ گڼه | چهارشنبه دمیزان ۱۸ | ۱۳۴٦ هجری شمسی کال | پرله پسی گڼه ۹۰


## د۱۳۴٦ کال دمیزان د ٤ نیټې (۵۹۷-۲۱۸۱) گڼه

### باچایی تقنینی فرمان

ج ، ع ، ج محمدهاشم میوندوال صدراعظم !

دښارنوالانو داستیناف غوښتنې دلسی ورځنی میعاداودلوی ښارنوال داستیناف غوښتنې ددیرش ورځنی میعادد کفایت نه‌لرلو له کبله دجزائی اجراء اتو دقانون د(۳٤۹) او(۳۵۰)مادودتعدیل په‌باب دوزیرانو د عالی مجلس د۱۳٤٦ کال دمیزان ددوهمې نیټې (۲۹۸٦) گڼه‌تصویب چه منظوری یی له‌شوری نه تیریدل غواړی اودشوری دتعطیل سره‌یی تصادف کړی دی داساسی قانون د(۷۷)مادی‌مطابق منظور ردی اوپه‌دی فرمان‌تائیدیږی.

دجزائی اجراء اتود(۳٤۹) او(۳۵۰) ماد و تعدیل په رسمی جریده کښې له‌خپریدو وروسته‌نافذدی .

تاسوجناب‌جلالتماب‌زمونږ دحضوردااراده‌مربوطودایروته‌ابلاغ‌اوهم لارښوونه‌وکړئ‌چه‌دشوری‌دبیاغونډیدوپه وخت داساسی قانون د(۷۷) مادی‌مطابق‌داموضوع دنهایی‌مرحلودتیرولودپاره‌شوری‌ته‌وړاندی کړی‌شی.

دملوکانه حضور ښکولنځی

## دجزائی اجراءاتو دقانون د۳٤۹او۳۵۰مادو تعدیل

۱ـ دجزائی اجراآتو دقانون ۳٤۹ ماده‌دی په‌دی‌ډول تعدیل‌شی :

دحکم استیناف دښارنوالی دفترته دمربوطې محکمې دفیصلې دکتبی اورسمی رارسیدوله نیټې څخه په دیرشو ورځو کښی دننه دهغې محکمې دتحریراتو دفترته چه‌حکم یی صادرکړی‌دی داستدعا له‌مخه کیږی.لوی ښارنوال یادده پـه اجازه دلوی ښارنوال مرستیال کولی‌شی چه دلویی ښارنوالی‌د تحریراتودفترته‌دحکم دکتبی ابلاغ له نیټې څخه په څلویښتو ورځو کښې‌دننه (یعنی‌دلوئی‌ښارنوالی دتحریراتو‌دفترته‌دفیصلې دمکتوب درارسید وله‌نیټې څخه) استیناف‌وغواړی .

دښارنوالی له‌خوا داستیناف غوښتنه هغې‌محکمې‌ته‌چه حکم‌یی صادر کړی‌دی یاهغې‌محکمې‌ته چه ددغه‌حکم په استیناف باندی دغور کولو صلاحیت لری په لیکلی‌ډول‌وړاندی کیږی .

## فرمان‌شماره (۵۹۷-۲۱۸۱) مورخ ٤ میزان ۱۳٤٦

### تقنینی حضور شاهانه

ج ، ع ، ج محمدهاشم میوندوال صدراعظم !

تصویب‌شماره ۲۹۸٦ مورخه ۲ میزان ۱۳٤٦ مجلس عالی وزرا راجع‌به تعدیل مواد ۳٤۹و۳۵۰ قانون اجراآت جزائی بنابرعدم کفایت میعاد ده روز استیناف طلبی ښارنوال ها وسی‌روز استیناف خواهی لوی ښارنوال که منظوری آن مستلزم گذارش‌ازشوری بوده‌وبه‌وقت‌تعطیل‌شوری‌تصادف نموده‌طبق‌ماده (۷۷)قانون‌اساسی‌منظورو‌بوسیلهٔ‌این‌فرمان تائیدمی‌شود .

تعدیل‌مواد (۳٤۹و۳۵۰) قانون‌اجراءات‌جزائی بعدازنشر درجریده رسمی‌نافذاست .

جناب جلالتماب‌شما این ارادهٔ حضورمارابه دوایرمربوط ابلاغ‌ونیز هدایت بدهید تاحین انعقاد مجدد جلسه شوری طبق ماده (۷۷) قانون اساسی به‌غرض طی‌مراحل نهائی به‌شوری تقدیم گردد .

محل‌صحهٔ حضور شاهانه

## تعدیل‌مواد ۳٤۹و۳۵۰ قانون‌اجراآت‌جزائی

۱ـ مادهٔ (۳٤۹) قانون اجرا آت جزائی برحسب آتی تعدیل یـابد :

«استیناف حکم توسط استدعا بدفترتحریرات محکمهٔ کـه حکم راصادر کرده درخلال مدت سی روز ازتاریخ مواصلت رسمی وکـتبی فیصلهٔ محکمه‌مربوط به‌دفتر تحریرات ښارنوالی‌صورت‌میگیرد ـ لوی ښارنوال ویامرستیال لوی‌ښارنوال باجازه وی‌می‌تواند در خلال مدت چهل روز ازتاریخ ابلاغ کتبی‌حکم‌به دفترتحریرات لوی ښارنوالی (یعنی‌ازتاریخ ورود مکتوب مربوط به فیصله بدفتر تحریرات لوی ښارنوالی ) طلب استیناف نماید .

استدعاء استیناف‌ازطرف‌ښارنوالی‌به‌محکمه‌ای که‌حکم‌راصادرنموده ویابه محکمه ای که صلاحیت رسیدگی استیناف حکم مذکور را دارد به‌صورت کتبی تقدیم‌میشود . »

۲ـ دجزائي اجراءاتو دقانون (۳۵۰) ماده دې داسې تعدیل شي :
دهغو احکامو داستیناف نیټه چه دحضوری محاکمې په اساس صادر شوی وی محکوم ته دحکم د ابلاغ له نیټې راهیسې دیرش ورځې ده .

## د ۱۳٤٦ کال د سنبلې د ۲۷ نیټې (۵۷۸ - ۲۱۱۸) گڼه

## باچائي تقنیني فرمان

ج، ع، ج محمدهاشم میوندوال صدراعظم!

درسمي جریدې د ۱۳٤۵ کال د حوت د لومړۍ نیټې په گڼه کښې د خارجي او داخلي خصوصي پانگې اچولو د خـپاره شوی ـ قانون د ضمیمې په حیث د یوې مادې او د هغې دتبصرې په باب د ۱۳٤٦ کال د سنبلې د۲٦ نیټې د وزیرانو د عالي مجلس ۲۸۹۵ گڼه فیصله لـه دې ملاحظې سره چه دهغې دقانوني مراتبو تکمیل دشورې نه تیریدل غواړي او دشورې دتعطیل له وخت سره یې تصادف کړی دی داساسي قانون د ۷۷ مادې مطابق زمونږ له حضوره منظورده او په دې فرمان تاییدیږي .

تاسو جناب جلالتمآب زمونږ د حضوردا اراده مربوطـو دوایروته ابلاغ او هم لارښودنه وکړئ چه دغه موضوع د شورې دبیا غونډیدو په وخت د قانوني مرحلو د تیرولو د پاره د اساسي قانون د ۷۷ مادې مطابق شورې ته وړاندې کړی شي .

د شاهانه حضور ښکولنځی

## د خارجي او داخلي خصوصي پانگې اچولو

## دتشویق د قانون ضمیمه

۱ـ دصنایعو د فعالیت د زیاتیدو اونشونـما دپـاره د ښوحـالاتو د رامنځ ته کولو په غرض هغه صنعتي مؤسسې چه دکانو اوصنایعو دوزارت دجوازپاڼې له مخه د ۱۳۲۸ کال د حمل د ۳۰ نیټې د صنایعو د تشویق د اصولنامې په اساس واقعاً جوړې شوې دی د تولیدي پرزو د پراختیا او انکشاف د پاره د سرمایوی مالونو او هغو خامو موادو د راوړلو په برخـه کښې چه په هیواد کښې د ننه نه پـیدا کیږي اوهـم د هـغو نیم ساختو موادو په برخه کښې چه د پانگې اچولو دروانو تو لیدا تو په پراختیا کښې لازم و گڼل شي ددې قانون د نافذ کیدو لـه نیټې څخه تر پنځو پوره پسې کلونو پورې د گمرکي عوارضو له ورکړې معاف دی .

تبصره : ددغو موا دو اندازه د مؤسسو د حقیقي ضرورت او فعالیت له مخه د کانو او صنایعو د وزارت له خوا ټاکـل کـیږي او مربوطه کومک ددغه وزارت په تصدیق اجـراء کیږي .

۲ـ مادۀ (۳۵۰) قـانون اجراآت جزائی طبق آتی تعدیل شود :
«موعد استیناف احکامیکه بر اساس محاکمه حضوری صورت گرفته باشد از تاریخ ابلاغ حکم به محکوم تاسی روز میباشد .»

## فرمـان تقنینی شماره (۵۷۸ - ۲۱۱۸)

## مورخ ۲۷ سنبله ۱۳٤٦ حضور ملوکانه

ج ، ع ، ج محمد هاشم میوند وال صدراعظم !

فیصله شماره ۲۸۹۵ مورخ ۲٦ سنبله ٤٦ مـجلس عـالی وزرأ مبنی برتصویب یك ماده با تبصره آن به حیث ضمیمه قانون سرمایه گذاری خصوصی خارجی وداخـلی منتشرۀ اول حوت ۱۳٤۵ جرید ه رسمی با ملاحظه اینکه تکمیل مراتب قانونی آن مستلزم گذارش از شوری بوده و بوقت تعطیل شوری تصادف نموده طبق ماده (۷۷) قـانـون اساسی از حضورما منظور وبا این فرمان تائید می شود .

جناب جلالتماب شما این اراده حضورما را به دوایر مربوط ابلاغ و نیز هدایت بدهید تاموضوع حین انعقاد مجدد جـلسه شـوری به غرض طی مراحل قـانـونی طبـق مـاده (۷۷) قـانـون اساسی بـه شـوری تـقدیم شود .

محل صحۀ حضور شاهانه

## ضمیمۀ قانون تشویق سرمایه گذاری خـصوصی

## خارجـی و داخلـی

۱ ـ به منظور تأمین شرایط تمدید فعالیت ونشو ونموی صنایع مؤسسات صنعتی که به موجب جواز نامه وزارت معادن وصنایع به اساس اصولنامۀ تشویق صنایع منتشرۀ ۳۰ حمل ۱۳۲۸ واقعاً تأسیس گردیده اند درحصۀ تورید اموال سرمایوی به منظور انکشاف وتوسعۀ پرزه جات تولیدی ومواد خامیکه در داخل مملکت تهیه وتدارك شده نتـواند ومواد نیمه ساخته ایکه درتوسعه وتولیدات جاریه سرمایه گـذاری لازمی شمـرده شود برای مدت پنج سال متمادی ازتاریخ انفاذ این قانون ازپرداخت عوارض گمرکی معاف میباشد .

تبصره : اندازه ونوعیت مـواد متذکرۀ فـوق نظر به ضرورت و فعالیت حقیقی مؤسسات ازطرف وزارت معادن وصـنایع تعیین وکمك مربوطه به تأسی از تصدیق آن وزارت ا جراآت میدارد .

# دصدارت عظمی د۱۳۴۶ کال دمیزان دمیاشتی د۴ نیټی (۳۰۲۰) گڼه فرمان

ع، ج ډاکټرمحمد احسان تره کی عدلیه وزیر !

دوزیرانو مجلس د۲۹۳۶ گڼی فیصلی لاندی د۱۳۴۶ کال دسنبلی د۲۸ نیټی په غونډه کې دتجارت دوزارت د۱۳۴۶ کال دسنبلی د۴ نیټی د۳۰۵ گڼی عرض پاڼی دکتنی له مخه اودوزیرانو دمجلس د۱۳۱۷ کال دحوت د۱۰ نیټی د۹۰۹ گڼی فیصلی په یادونه چه دتجارت په اتاق کښې دشرکتونو دپانگی دحق الثبت اودجوازپاڼی دقیمت دسنجش په باب وه داقتصادی عالی شوری د۱۳۴۶ کال دسنبلې د۲۱ نیټی د۸۸ گڼی فیصله پا یې له تائید سره دالاندی مراتب تصویب کړل

۱- دپانگواچولو د زیات تشویق دپاره هغه موسسی چه د۱۳۴۵ کال دحوت په لومړی نیټه دخصوصی داخلی اوخارجی پانگی اچولو دخپاره شوی قانون په اساس جوړیږی دتجارت په اتاق کښې دحق الثبت له ورکولو معافی دی او یوازې په عدلیه وزارت کښې دحق الثبت په ورکولو مکلفی دی .

۲- په پورتنی لومړی ماده کښې ذکرشویو مؤسسوته د جوازپاڼې ورکول دمالیې دورکړې په اساس په لاندی ډول دتجارت دااتاق له خوا سنجول کیږی اوعملی کیږی :

الف- که چرې دمالیې دورکړې وجایب ترپنځوسو زروافغانیو پورې وی دجوازپاڼې قیمت به دری زره افغانی وی .

ب- که چرې دمالیې دورکړې وجایب له پنځوسو زرو افغانیو نه تر یولکو افغانیو پورې وی دجوازپاڼې قیمت به پنځه زره افغانی تثبیتیږی .

ج- که چرې دمالیې دورکړې وجایب له یولکو افغانیونه زیات وټاکل شی دجوازپاڼې قیمت به اووه زره افغانی وی .

ددی تصویب مراتب چه دمعظم همایونی اعلیحضرت له حضوره تیرشوی دی تاسو جلالتماب ته خبرورکړی شو چه د هغه مطابق اجراءات وکړی .

دصدراعظم په امر

ډاکټر محمدانس مشاوروزیر

# د۱۳۴۶ هـ ش کال دمیزان د۱۲ نیټی (۶۲۱-۲۲۷۴) گڼه باچائی تقنینی فرمان

ج، ع، ج محمدهاشم میوندوال صدراعظم !

دپاسپورټ داصولنامی د(۱۳) مادی دتعدیل په باب دوزیرانو دعالی مجلس د۱۳۴۶ کال دمیزان د۹ نیټی ۳۰۹۸ گڼه تصویب چه منظوری یې له شوری نه تیریدل غواړی اودشوری دتعطیل له وخته سره مصادف دی د اساسی قانون د(۷۷) مادی مطابق منظوردی او په دی فرمان تائیدیږی .

دپاسپورټ داصولنامی د(۱۳) مادې تعدیل په رسمی جریده کښې دخپریدونه وروسته نافذدی .

# فرمان ۳۰۲۰ مورخ ۴ میزان ۱۳۴۶

صدارت عظمی

ع، ج دکتور محمداحسان تره کی وزیر عدلیه !

«مجلس وزرأ تحت فیصله شماره ۲۹۳۶ درجلسه تاریخی ۲۸ سنبله ۱۳۴۶ باملاحظه ورقه عرض شماره ۳۰۵ مؤرخ ۴-۶-۴۶ وزارت تجارت وباتذکر از فیصله شماره ۹۰۹ مؤرخ ۱۰ حوت ۱۳۱۷ مجلس وزرأ راجع به حق الثبت سرمایه شرکت هادر ریاست اتاق تجارت ومعیارسنجش قیمت جوازنامه باتائید فیصله شماره ۸۸ مؤرخ ۲۱-۶-۴۶ شوری عالی اقتصادی مراتب آتی راتصویب نمود.

۱- بمنظور تشویق مزید سرمایه گذاری مؤسساتیکه به اساس قانون سرمایه گذاری خصوصی (داخلی وخارجی) منتشره اول حوت ۱۳۴۵ تأسیس میگردند از تادیه حق الثبت دراتاق تجارت معاف بوده محض مکلف به ادای حق الثبت در وزارت عدلیه میباشند.

۲- قیمت اعطای جوازنامه به مؤسسات متذکره ماده اول فوق به اساس مالیه دهی به ترتیب ذیل توسط اتاق تجارت سنجش وعملی گردد.

الف- درصورتیکه وجایب مالیه دهی الی مبلغ پنجاه هزار افغانی باشد قیمت جوازنامه مبلغ سه هزار افغانی خواهد بود.

ب- درصورتیکه وجایب مالیه دهی از مبلغ پنجاه هزار الی یکصد هزار افغانی باشد قیمت جوازنامه مبلغ پنجهزار افغانی تثبیت گردد.

ج- درصورتیکه وجایب مالیه دهی بلند تر از مبلغ صد هزار افغانی تعیین گردد قیمت جوازنامه هفت هزار افغانی خواهد بود.)

مراتب این تصویب که از ملاحظهٔ حضور اعلیحضرت معظم همایونی گذارش یافته به جلالتماب شمااطلاع داده شد تاطبق آن تعمیل نمائید.

بامر صدراعظم

(دکتورمحمد انس وزیرمشاور)

# فرمان تقنینی شماره (۶۲۱-۲۲۷۴) - مورخ ۱۲-۷-۱۳۴۶ حضور شاهانه.

ج، ع، ج محمدهاشم میوندوال صدراعظم !

تصویب شماره ۳۰۹۸ مؤرخ ۹ میزان ۱۳۴۶ مجلس عالی وزراء راجع به تعدیل ماده (۱۳) اصولنامهٔ پاسپورت که منظوری آن مستلزم گذارش از شوری بوده وبوقت تعطیل شوری تصادف نموده طبق ماده (۷۷) قانون اساسی منظور وبوسیلهٔ این فرمان تائید میشود .

تعدیل ماده (۱۳) اصولنامه پاسپورت بعداز نشر در جریدهٔ رسمی نافذاست.

تاسوجناب جلالتماب زمونږ دحضورداارادهٔ مربوطو دایروته ابلاغ اودالارښودنه هم وکړئ چه موضوع دشورئ دبیا غونډیدوپه وخت داساسی قانون د(۷۷)مادی مطابق دنهایی مرحلو دپوره کولو دپاره شوری ته ولیږله شي.

دشاهانه حضورښکولنځی

## دپاسپورټ د اصولنامی د۱۳مادی تعدیل

دپاسپورت داصولنامی ۱۳ ماده دی په دی ډول تعدیل شی:

کوم افغانی اتباع چه په هغو پاسپورټونو باندی چه لامیعادبې نه دی پوره شوی بیا له افغانستان څخه ووځی په دی مکلف دی چه په (پنځم) اصل کښې ذکرشویو مقاماتو ته خپل پاسپورتونه یوسی اوویزه یی کړی. دادول ویزی وړیادی.

هغه وخت چه افغانی اتباع په هغو پاسپورټونو باندی چه لا میعاد یی سرته نه دی رسیدلی خپل هیـوادته راستنیږی د افغانی لویوسفارتـونو یاقونسلگریو د ملاحظی دویزی په لرلو مکلف نه دی .

## د۱۳٤٦ کال دمیزان د۱۲ نیټی (۶۲۰-۲۲۷۳) گڼه باچائی تقنینی فرمان :

ج، ع، ج محمد هاشم میوند وال صدراعظم!

د زمکو د سروی او احصائیی دقانون د۴۳ مادی د تعدیل په باب د وزیرانو دعالی مجلس د ۱۳٤٦ د میزان د ۹ نیټی (۲۰۹٤) گڼه تصویب چه منظوری یی له شوری نه تیریدل غواړی او دشوری دتعطیل له وخته سره یی تصادف کړی دی د اساسی قانون د ۷۷ مادی مطابق زمونږ له حضوره منظور دی او په دی فرمان تأئید یږی .

د زمکو د سروی اواحصائیی د قانون د ٤۳ مادی تعدیـل په رسمی جریده کښې د خپریدو نه وروسته نافذ دی .

تاسوجناب جلالتماب زمونږ د حضور دا اراده مربـوطـو دایروته ابلاغ اودالارښودنه هم و کړئ چه موضوع د شورئ د بیا غونډیدو په وخت د نهائی مرحلو د تیرولو د پاره د اسـاسی قانـون د(۷۷)مادی مطابق شوری ته ولیږله شی .

د شاهانه حضورښکولنځی .

## د زمکو د سروی او احصائیی د قانون د ٤۳ مادی تعدیل

۱ ـ د زمکو د سروی اواحصائیی د قانون د٤۳ مادی په شروع کښې دی (دعقاردملکیت په دعوو کښې) عبارت د (دعقار د ملکیت په تحقیقاتو کښی )عبارت باندی تعدیل شی .

جناب جلالتماب شما این ارادهٔ حضور مارابه دوایرمربوطه ابلاغ و نیز هدایت بدهند تا موضوع حین انعقادمجدد جلسه شوری طبق ماده (۷۷) قانون اساسی بغرض طی مراحل نهائی به شوری ارسال شود .

محل صحهٔ حضورشاهانه

## تعدیل مادهٔ ۱۳ اصولنامهٔ پاسپورت

۱ ـ مادهٔ ۱۳ اصولنامهٔ پاسپورت چنین تعدیل شود :

(تبعهٔ افغانی که بخواهند با پاسپورتیکه هنوزموعداعتبار آن اختتام نیافته است ازافغانستان مکررآخارج شوندمکلف اند پاسپورت خودرابه مقامات متذکرهٔ اصل (۵) ارائه وبه ویزه برسانند ـ این قسم ویزه هامجانی است

هنگامیکه تبعهٔ افغانی باپاسپورتیکه هنوزموعد اعتبار آن اختتام نیافته است به وطن عودت مینمایند مکلف به داشتن ویزه ملاحظهٔ سفارت کبری ها ویا قونسلگری های افغانی نیستند )

## فرمان شماره (۶۲۰ـ ۲۲۷۳)مورخ ۱۲-۷-۱۳٤٦ تقنینی حضورشاهانه

ج، ع ، ج محمد هاشم میوند وال صدراعظم !

تصویب شماره (۲۰۹٤)مورخ ۹ میزان ۱۳٤٦ مـجلس عالی وزرأ راجع به تعدیل ماده ٤۳ قانون سروی و احـصائیهٔ اراضی که منـظوری آن مستلزم گذارش ازشوری بوده وبه وقت تعطیل شوری تصادف نموده طبق مادهٔ(۷۷)قانون اساسی ازحضورما منظورو بوسیلهٔ این فرمان تائید میشود

تعدیل مادهٔ ٤۳ قانون سروی و احصائـیه اراضـی بعـد ازنشر در جریدهٔ رسمی نافذ است .

جناب جلالتماب شما این ارادهٔ حضورما را به دوایرمربوطه ابلاغ و نیزهدایت بدهید تا موضوع حین انعقاد مـجدد جـلسهٔ شوری طبق ماده (۷۷) قانون اساسی برای طی مراحل نهائی به شوری ارسال شود .

محل صحهٔ حـضور شاهـانه

## تعدیل مادهٔ ٤۳ قانون سروی و احصائیهٔ اراضی

۱ـ کلمات « در دعاوی ملکیت عقـار» درآغـازمـادهٔ ٤۳ قـانـون سروی و احصائیه اراضی به کلمات « در تحـقیقـات ملـکیت عقار » تعدیل گردد .

داشتراك بیه

| | | |
|---|---|---|
| په کابل کښې | ۲۲۰ | افغانی |
| په ولایاتو کښې | ۲٤۰ | افغانی |
| په باندینو هیوادونو کښی | ۱۰ | امریکائی دالره |

دیوی گڼی بیه : لس افغانی

دپوهنې مطبعه